په جنت کې داسې یو بازار دی چې خلک ورته هره جمعه راځي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: په جنت کې داسې یو بازار دی چې خلک ورته هره جمعه راځي نو د شمال باد چې راوالوځي او د دوی په مخونو او کالیو (دوړې) پریوځي، نو ښکلا یې نوره هم ورسره زیاته شي او کله چې دوی خپلو کورنیو ته راوګرځي، په داسې حال کې چې ښکلا او ښایست یې زیات شوی وي، نو کورنۍ یې ورته ووایي چې: قسم په الله چې زمونږ نه وروسته مو ښکلا او ښایست زیات شوی دی، هغوی به ووایي: او تاسو هم قسم په الله، چې زمونږ نه وروسته مو ښکلا او ښایست زیات شوی دی.

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې په جنت کې داسې یو ځای دی چې هغوی پکې راټولېږي، هلته پېر او پلور نه وي، بلکې څه چې غواړي هغه اخېستلی شي، نږدې د هر اوو ورځو په اندازه وخت کې ورته یو ځل راځي، نو د شمال لورې باد راوالوځي او د دوی په مخونو او کالیو کې (ګردونه) خپاره کړي چې په دې سره یې ښکلا او ښایست زیات شي، نو چې کله خپلو کورنیو ته وروګرځي په داسې حال کې چې ښکلا او ښایست یې اضافه شوی وي، نو کورنۍ به یې ورته ووایي: قسم په الله مورږ چې په وروستي ځل لیدلي وئ له هغې څخه مو ښکلا او ښایست زیات شوی دی، نو دوی به ووایي: قسم په الله چې تاسو هم ښکلي او ښایسته شوي یاست.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8353